د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

## د پينځه واړو لمونځونو نه پس

# وظيفې کول

9 اپريل 2026



# د زده كولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: **5** منټه **(2):** دُعا يادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، ټول وخت: **15 منټه-**

نن به د زده كولو او ښودلو پۀ **حلقو** كښې پۀ 72 **نيک اعمال** كښې د يو نيک عمل د **د پينځه وارو نمونځونو نه پس وظيفې كوئ** پۀ باره كښې ګټه ور معلومات دركولے شي او پۀ **آئينه كښې د كتلو پۀ وخت لوستلے كيدونكې دُعا** به يادولے شي- پۀ اخره كښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے كيږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## د پينځه وارو نمونځونو نه پس وظيفې كول

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پۀ ما باندې سحر او ماښام 10، 10 كرته دُرُودِ پاک ولوستو هغۀ ته به د قيامت پۀ ورځ زما شفاعت ميلاؤيږي- (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نيک عمل نمبر 5

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د روحاني ترقۍ د پاره د اِسلامي خوئيندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو وغيره د پاره د سوالونو پۀ شكل كښې د نيک اعمال مختلفې رسالې جوړې كړې دي- نن به مونږ د 72 نيک اعمال رسالې نه د **نيک عمل نمبر: 5** پۀ باره كښې زدكړه كوو-

**نيک عمل نمبر: 5** آيا نن تاسو د پينځه وارو نمونځونو نه پس كم از كم يو يو ځل

---

[1] ...مجمع الزوائد، كتاب الاذكار، باب مايقول اذا اصبح واذا امسى، جلد:10، صفحه:120، حديث:17022-

آيةُ الكُرسي، سُورةُ الاِخلاص، تسبيح فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا لوستلې؟

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ (پاره:5، سورۂ نساء: 103)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا چې کله تاسو نـمونځ اوکړئ نو الله يادوئ۔

د يو قول مطابق دلته د نـمونځ نه پينځه واړه نـمونځونه مُراد دي، يعني چې کله تاسو نـمونځ اوکړئ نو د هغې نه پس هم د الله پاک په ذِکر کښې مشغول اوسئ په دې ذِکر کښې حمد، تسبيح، تکبير، تهليل، د قرآنِ پاک تلاوت وغيره هر قِسمه ذِکر شامل دے۔ [1]

## د نـمونځ نه پس د آيةُ الكُرسیِ، سُورةُ الاِخلاص، تسبيح فاطمه د لوستلو فضائل

د آيةُ الكُرسیِ د لوستلو فضائل: ❁ د هر نـمونځ نه پس آية الكرسي لوستونکے د بل نـمونځ پورې د الله پاک په ذمهٔ کرم کښې اوسيږي۔ [2] ❁ د هر نـمونځ نه پس آية الكرسي لوستونکے د الله پاک په لاس کښې د جنګيدونکي په شان دے۔ [3] ❁ د هر نـمونځ نه پس آية الكرسي لوستونکے به د مړ کيدو نه پس فوراً جَنَّت ته داخليږي۔ [4]

د سورةُ الاِخلاص د لوستلو فضائل: ❁ د هر نـمونځ نه پس 10 کرته سُورةُ الاِخلاص

---

[1] ...تفسير نعيمی، پاره:5، سورۃالنساء، زير آيت: 103، جلد:5، صفحه:430، ملخصًا۔

[2] ...معجم کبير، جلد:2، صفحه:213، حديث:2667۔

[3] ...کنز العمال، کتاب الاذکار، جلد:1، جز:1، صفحه:284، حديث:2574، ماخوذاً۔

[4] ...معجم کبير، جلد:4، صفحه:260، حديث:7408۔

لوستل د الله پاک رضا او بخښنه لازمي کوي-[1] ❁ د هر نـمونځ نه پس **سُورةُ الاِخلاص لوستونکے** به د مرګ نه پس فوراً جَنَّت ته داخليږي-[2] ❁ يو ځل **سُورةُ الاِخلاص لوستل** د دريمې حصې قرآن لوستلو برابر دے-[3] ❁ 10 کرته د سُورةُ الاِخلاص لوستونکي د پاره به پۀ جَنَّت کښې يو محل جوړولے کيږي، د 20 کرته لوستونکي د پاره به 2 محلونه جوړولے شي، او د 30 کرته لوستونکي د پاره به 3 محلونه جوړولے شي-[4]

**د تسبيحِ فاطمه د لوستلو فضائل:** د هر نـمونځ نه پس تسبيح فاطمه لوستونکے به پۀ تاوان کښې نۀ اوسي-[5] ❁ د هر نـمونځ نه پس د تسبيحِ فاطمه د لوستونکي ګناهونه معاف کولے شي اګر که د سمندر د ځګ برابر وي-[6]

## د نـمونځ نه پس د ذِکر کولو پۀ باره کښې حُکمونه

**(1):** د هر نـمونځ نه پس **آيةُ الكُرسي**، **سُورةُ الاِخلاص** او **تسبيح فاطمه** لوستل مستحب دي-[7] **(2):** د کومو نـمونځونو نه پس چې سُنَّت او نفلونه دي پۀ هغې کښې پۀ فرضو فرضو او سُنَّتو کښې د زياتې دمې کولو سره د سُنَّتو ثواب کميږي، لهذا د ماسپښين، ماښام او د ماسخوتن د سُنَّتو او نفلونو ادا کولو نه پس دې اوږدۀ ذِکرونه اوکړے شي-[8] **(3):** پۀ حديثونو کښې چې د کومو وظيفو خاص شميره ذِکر کړے شوې ده هغه دې دې هم پۀ هغه همره شميره کښې ولوستلے شي چې د هغې د لوستلو چې کوم فضيلت

[1] … كنز العمال، كتاب الاذكار، جلد:1، جز:1، صفحه:298، حديث:2729-

[2] … معجم كبير، جلد:4، صفحه:260، حديث:7408-

[3] … بخارى، كتاب فضائل القرآن، باب فضل قل هو الله احد، صفحه 1297، حديث: 5015، ملخصًا-

[4] … مشكاة المصابيح، كتاب فضائل القران، جلد:1، صفحه:669، حديث:2185-

[5] … مسلم، كتاب المساجد...الخ، باب استجاب الذكر...الخ، صفحه:219، حديث:596-

[6] … مسلم، كتاب المساجد...الخ، باب استجاب الذكر...الخ، صفحه:219، حديث:597-

[7] … الدر المختار مع رد المحتار، كتاب الصلاة، باب الصفة الصلاة، جلد:2، صفحه:302-

[8] … الدر المختار مع رد المحتار، كتاب الصلاة، باب الصفة الصلاة، جلد:2، صفحه:300،301-

راغلے دے هغه د هٔغې شميرې سره خاص دے-[1]

## د نـمونځ نه پس د وظيفو د لوستلو د عادت جوړولو طريقه

❁ د الله ذِکرخاص طور د آيةُ الكُرسی، سُورةُ الاِخلاص او تسبيح فاطمه د لوستلو فضيلتونه او فائدې خپلې مخې ته ساتئ ❁ د نـمونځ کولو نه فوراً پس د جومات نه د وتلو په ځائے د څهٔ وخت پورې په جومات کښې کښينئ او تسبيحِ فاطمه لولئ ❁ هره ورځ خپله جائزه اخلئ چې نن مې د څومره نـمونځونو نه پس تسبيح فاطمه او آيةُ الكُرسي لوستلې ده، د جائزې اخستو د تولو نه بهترينه طريقه نيک اعمال رساله ډکول دي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن مونږ د نيک عمل نمبر: 5 مطابق د **د پينځه واړو نـمونځونو نه پس د کيدونکو وظيفو** په موضوع باندې ګڼه ور معلومات حاصل کړل، نيت اوکړئ چې روزانه به د هر نـمونځ نه پس آيةُ الكُرسي، سُورةُ الاِخلاص او تسبيح فاطمه لولو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د چا په مُسکا د ليدلو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَحَسِّنْ خُلُقِيْ

ترجمه: اے الله! تا زما شکل خو ښهٔ جوړ کړے دے زما اخلاق هم ښهٔ کړې-[2]

---

[1] ... بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:539-

[2] ... الحصن الحصين، صفحه:102، المكتبة العصريه بيروت-

# د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

## د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آيةُ الکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا

مسلمانانو ته مو سلام كړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل كړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخكښې ادا كړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا كړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو كړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا كړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني كارونو كښې مو د يو ديني كار ترغيب وركړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال كړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل كتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده كړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا كړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي كوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه كښې شركت كړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز كار نه مو مخكښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو وركړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب كړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ كړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو كړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل كړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ كړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ كړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ كړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر كړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو كړے؟

## د قُفلِ مدينه كاركردګي

❀ پۀ ليكلو خبرې كول 12 كرته ❀ پۀ اِشاره باندې خبرې كول 12 كرته ❀ پۀ سترګو كښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 كرته۔

# هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د كور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاكَرَه مو كتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پهٔ هفته واره اِجتماع كښې مو د اول نه تر اخره پورې شركت كړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِكَاف مو كړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا پهٔ وفات كيدو مو تعزيت [لاس نيوه] كړې؟ (62): آيا پهٔ هفته كښې مو پهٔ يوه ورځ كښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو كړې؟ (65): آيا مخكښې راتلونكې او اوس د نهٔ راتلونكو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا كړو؟